ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۲۱/۱۰/۱۶

# د افغانستان خطرناکه ګاونډي
## او د طالبانو په رسميت نه پيژندلي واکمني
لومړي برخه




سريزه : کابل ته د طالبانو بيرته ورستنيدلو سره د امريکايانو او ناټو شل کلن جګړيز ماموريت ناڅاپه پايته ورسيد. د طالبانو لخوا پرته له يوه ډزه په ډراماتيکه توګه سياسي واک ترلاسه کولو ورسته افغانستان د يو ناڅرګنده سياسي برخليک او نا روښانه راتلونکي په لور روان دی. په افغانستان کې د سياسي واک تشې رامنځته کيدو سره د دې هيواد د ګواښمنو ګاونډيو هيوادونو ليوالتياوې، ګټې، ننګونې، اندېښنې او ترينګلتياوې مخ په ډېريدو دي. د سختدريځو اسلامپالو طالبانو واک ته رسيدلو سره ګاونډې هيوادونه د خپل امنيت او ثبات په اړه تر فشار لاندې راغلي دي. د افغانستان ګاونډي هيوادونه طالبانو ته په کومه سترګه ګوري. د افغانستان امنيت او ثبات د سيمه ييزو ځواکونو او ګاونډيو هيوادونو د متقابل چلند پورې هم اړه لري. په افغانستان کې د واک تشه د افغانانو ترمنځ د خپل راتلونکی په اړه لويې اندېښنې او وېرې راټوکولي دي. همدارنګه د همدې نويو ستونزو او ناڅرګندتياوې له امله د افغان کډوالو بهير ګړندې شوي. د سيمې او اروپايې هيوادونو کې د افغان کډوالو ورتګ خپلې ناوړه اغېزې هم شيندلي دي. د ملګرو ملتونو د شميرو له مخې په افغانستان کې تر درې نيم ميليونه افغانان بيځايه شوي دي.

د جو بايډن په امر له افغانستان څخه د امريکائې سرتيرو غير مسووله وتلو ناورين يوازې يو له شرمه ډک بشري ناورين نه و، بلکې دا د بايډن حکومت لپاره د يوې سترې سياسي ستراتيجکې ماتې په مانا هم و. په افغانستان کې د لويديځوالو ناکميدو لاملونه ټولو ته څرګند دي. د لويديځوالو پوځي ايتلاف د ناکامۍ لوی لامل د خپل دښمن څخه په بشپړه توګه ناسمه، غلطه انګيرنه او ارزونه وه. سربيره پردې د مرستکونکو هيوادونو د مرستو په پروګرامونو کې ناهمغږی او د مرسته کونکو هيوادونو مرستې د ناڅرګندو تياره چينلونو له لرې د لويديځوالو جيبونو او شرکتونو ته بيرته تګ وه، همداراز په افغانستان کې د لويديځ ماتې په يوه نامساوي جګړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

کې او د ترهګرۍ ضد جګړې په اړه غلط فهمی، ناسمو انګیرنو، شننو او نا سمو ستراتیجیکو پلانونو سره تړاو درلود.
یو باثباته سوله ئیز افغانستان د ټولو سیمه ئیزو ځواکونو او ګاونډیو هیوادونو په ګټه دی. اوس پوښتنه دا ده، چې ایا طالبان به وکولي شي، د یوې اوږده مودې لپاره جګړه ځپلې ټوټه ټوټې او ځیرلي افغانستان بیرته وګنډي او یو موټې کنټرول کړي. یا د طالبانو اوسنی سختدریځه د نړوالو نومونو او اصولو خلاف واکمني به د دوی د پخوانې پینځه کلن رژیم په څیر بیا لږ دوام وکړي. ایا طالبان به په یوه باثباته او څو اړخیزه ټولشموله ملي حکومت جوړولو کې بریالي شي. ایا دوی به د اسلامی ترهګرۍ صادرولو مخه ونیولي شي، د افغان کډوالو د بیرته ستندو ستونزې به حل کړې شي، د مخدره توکو کرکیلي او قاچاق په مختیوې کې به بریالي شي. د طالبانو حکومت سیاسي امنیتي او اقتصادي ستونزې ځنډنې دېرې دي، د لویدیځوالو یوځی ناکامی ورسته چین، روسیې، پاکستان او ایران د افغانستان د ناورین په اړه د خوښیو ډک غبرګونونه وښودلي دي. دغه خطرناکه ګاونډۍ وسمهال او په راتلونکي کې هڅې کوي، څو پر سیمه بیز کچ خپلې ګټې په افغانستان کې خوندي کړي. پوښتنه دا ده، چې د افغانستان په راتلونکي کې ګاونډې هیوادونه څه ډول رول لوبول غواړي او د طالبانو په رسمیت نه پیژندل شوي واکمني په اړه څه تګلارې لري؟
په دې لیکنه کې یوه هڅه کیږي، څو د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو پالیسیو، لیوالتیاوې، ترینګلتیاوې، سیاسي، امنیتي او اقتصادي ګټې وڅیړل شي. پرته له شکه د طالبانو تر واکمنیدو او برى ورسته افغانستان خپل ګاونډې هیوادونه د نویو ځمکنی واقعیتونو سره مخامخ کړي دي. همدارنګه سیمه بیز ځواکونه یا هیوادونه د طالبانو په اړه څه ډول سیاستونه او پالیسی غوره کړي. دې ته ورسته نورې پوښتنې د ډیرو څیړنیزو انسټیټیونو، پوهنتونونو، افغان، نړیوالو دولتي او نا دولتي بنسټونو، همدارنګه د بې شمېرو سیاسي کارپوهانو لخوا مطرح شوي دي.

## ۱ . په افغانستان کې د چین او روسیې ځانګړې رول، اقتصادی اهمیت، سیاسي او امنیتي لیوالتیاوې:

په افغانستان کې د امریکایانو او لویدیځوالو ناکامکیدو سره سم چین او روسیې پرته له جګړې د اسیا لویه لوبه وګټله، پرته له شک شوپیانه د امریکایي ځواکونو له وتلو ورسته روسیه او چین د سیاسي واک په برخه کې ګټونکې دي. د چینایانو او روسانو په تاودو بحثونو کې د لویدیځ ناکامي په اړه د خپلو بریاوو څرګندونو سربیره د سیمه بیز امنیتي ثبات او وضعیت په اړه جدي ویرې هم څرګندې شوي دي.
د لویدیځوالو سیاستوالو په تاودو بحثونو کې غالب باور دا دی، چې مسکو او بیجینګ به اوس د لویدیځوالو ځواکونو د وتلو ورسته رامنځته شوي سیاسي تشه د خپلو سیاسي موخو لپاره ډکه کړي. د چین او روسیې له نظره د افغانستان څخه د ناټو ځواکونو وتل د لویدیځوالو د دوامداره کمزوره کیدلو پالیسیو ثبوتونه ګڼل کیږي. په نهایت کې چین او روسیه باید پر سیمه بیز کچ د افغانستان نه د ورپیښو شویو ګواښونو مقابله هم وکړي. دا ګواښونه کولي شي په مستقیم ډول د چین او روسیې سیاسي، امنیتي ثبات او اقتصادي ګټې له جدي ګواښونو سره مخامخ کړي.
روسیه په افغانستان کې د ځواک له توازون سره د بل هر بهرني ځواک په پرتله ډیره ښه پیژندګلوي لري. په دې ورستیو کلونو کې د طالبانو استازي څو ځله د خبرو اترو لپاره مسکو ته سفرونه کړي دي. د دې سفرونو په اړه روسي رسنیو لیکلي دی: اندیښنې ته هیڅ اړتیا نشته، د ټولو انګیرنو او تمې خلاف حتی طالبان د کابل ګوډاګي حکومت په پرتله زموږ ښه شریکان دي. روسان په دې هم پوهیږي، چې له افغانستان څخه د روسیې لپاره د ترهګرۍ ګواښونه لا هم شتون لري. ځکه اسلامي سختدریځه ترهګري ډلې د تاجکستان له لار روسیې ته لنده لار لري. د روسیې ولسمشر له افغانستانه د ترهګرو د ګواښ خبرداری ورکړې دی. هغه د دولتونو د سیمه بیزه اتصال د استخباراتو مشرانو په غونده کې ویلي، یو شمیر نړیوالي ترهګرې ډلې چې د داعش سره اړیکي لري، په افغانستان کې خپل فعالیت ته دوام ورکوي. په عراق او سوریه کې روزل شوي وسله وال هلته سره راغونډیږي. په دې مهمه غونده کې د روسیې، بلاروس، ارمنستان، اذربایجان، قزاقستان، فرغیزستان، ترکمنستان، او د تاجکستان د څارګرو ادارو مشرانو برخه اخیستلي وه.
چین ته د ملا برادر په مشرۍ د طالبانو یو نهه کسیزه پلاوي په سفر تللي و. د طالبانو پلاوي د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي سره لیدنه وکړه. دا لیدنه د چین په تیانجین ښار کې ترسره شوه.دوی په دې لیدنه کې د امنیتي مسئایلو په اړه بحث او خبرې اترې کړي دي. طالبانو چین ته ډاډ ورکړې دی، هیڅ یوه بهرنی ته به اجازه ورنکړل شي، څو د افغانستان خاوره د ګاونډیو هیوادونو په وړاندې وکاروي.
چین او طالبان د افغانستان پراخو طبیعي زیرمو کې ګډې ګټې هم لري. خو بیجینګ د مسکو په څیر د ترهګرۍ له نفوذ ډیره ویره لري. په چین کې اویغوریان د کلونو راهیسی د بیجینګ لخوا په ډېر وحشیانه ډول ځپل کیږي. په حقیقت کې د بیجینګ مشران واقعاً په چوپتیا کې د امریکایانو له شتون څخه په افغانستان کې ډېر خوښول. امریکایانو او متحدینو د شلو کلونو راهیسي له افغانستان څخه د اسلامپالني او افراطیت صادرولو مخه نیولي وه. ملا برادر په چین کې د خپلو اویغوري مسلمانو ورونو او خویندو په وړاندې د تاوتریحوالي سره سره


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

چین ته ډاډ ورکړي، چې دوی به هیچا ته اجازه ورنه کړي، د افغانستان خاوره د چین پر ضد وکاروي، په تیرو څو لسیزو کې په سلګونه اویغوریان له طالبانو سره یو ځای شوي او ځینې په ګوانتانامو کې بندیان دي، د دې احتمال شته، چې دغه بې باوري دوه اړه خیزه وي. چینایان او طالبان ممکن ډیرې نورې ګډې ګټې ولري، په افغانستان کې د ډېرو سکرو، ګاز، نایابه ګرانبیه ځمکني معدني زیرمې لکه لیتیم، وسپنې، مسو او د سرو زرو لویې زیرمې شتون لري. چې ارزښت یې څو ټرلیون ډالره اټکل کیږي، طالبان کولي شي د پلور څخه خپل عاید د پامور لوړ کړي. ښایي افغانستان د چین فابریکو د اومو معدني توکو لوړه غوښتنه هم ورپوره کړي.
په افغانستان کې د لویدیځ زوال د نوی نړیوال نظم پیل دی. د مسکو په سترګو کې له افغانستان څخه د لویدیځوالو وتل د امریکایانو د واکمنی او د هژمونېستي سیاست او د لویدیځ د بهرني سیاست ماتې او د کمزویو نښې نښاني دي. په افغانستان کې د لویدیځ ناکامی د مسکو لپاره د څو قطبي نړیوال نظم په لار کې یو بل مهم ګام بلل کیږي. دا هغه امریکایي مات ځواک دی، کوم چې د امریکا متحده ایالاتو له لوری په یکتازی کې د نورو نړیوالو ځواکونو په منځ کې د یو لوی ځواکمن ځواک رول لوبوي، همدارنګه لویدیځ او د لویدیځوالو سیاستونه ورو ورو د چین تر سیاسي فشار لاندې ورننوځي. په راتلونکي کې د لویدیځوالو کمزورۍ، منضوي شوي متفرقه سیاستونه، د دوی تر مشرتابه لاندې سیاستونه به د نړۍ په نورو سیمو کې د رژیمونو نسکورولو یا بدلولو پالیسی او نورو هیوادونو ته د لویدیځ دیموکراسۍ له صادرولو څخه باید ډډه وکړي. د مسکو په اند اروپایي ټولنه د افغانستان په خونړۍ ناورین کې یو ځلي بیا ثابته کړه، چې دوی په خپلواکه توګه هیڅ ډول عمل نه شي کولي. وسمهال د افغانستان په اړه سیاسي مسئایل د چین، روسیه، ترکیې او اړوندو سیمه ییزو لوبغاړو لکه پاکستان، ایران او قطر اغیز پورې اړه لري.
د بیجینګ واکمنان له افغانستانه د لویدیځ ځواکونو وتلو ته له یوې بلې زاویې څخه هم ګوري، لویدیځ سقوط وکړ، ختیځ ظهور وکړ یا په جګیدو دی. دا هغه روایت دی، چې په نړیوالو سیستماتیکو سیالو شرایطو کې خورا ډیر کاروال کیږي. په ورته وخت کې چین اروپایي هیوادونو او دولتونو ته اشاره ورکوي، چې دوی نشي کولي په امریکایي ځواک باندې اتکا یا ډډه ولګوي. د چین رسمي دریځ څخه داسي اوریدل کیږي، چې متحده ایالاتو او اروپایانو په افغانستان کې یوه بیساري ګډوډۍ تر شا پریښودله، اوس دوی دا تمه هم ترینه لري، چې چین او روسیه به د دې ګډوډیو لګښتونو او پایلې پر غاړه واخلي.

### ۲ . افغانستان د چین لپاره څه اهمیت لري او چین په افغانستان څه ډول رول لوبوي:

بیجینګ یو له هغو لومړنیو حکومتونو څخه و، اعلان وکړ، چې د طالبانو سره دوستانه اړیکو ته چمتو دی. ایا چین به د امریکایي ځواکونو له وتلو ورسته په افغانستان کې د سیاسي واک تشه ډکه کړي. چین په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو له شتون څخه ګټه پورته کړي ده. د امریکایي سرتیرو له وتلو ورسته د چینایانو ویره په ډیریدو هم ده، چې ترهګری به له ګاونډي هیواد افغانستان څخه ورخپره شي او د چین لویدیځ سنکیانګ ولایت ته ګواښ پیښ کړي. د چینایانو د رسمي خبرو له مخې د سینکیانګ په ولایت کې داسي بیلتونپال ځواکونه شتون لري، چې غواړي هلته اسلامي دولت بنسټ کیږدي. د چین مشرتابه په سینکیانګ کې په زرګونه مسلمانان د بیا زده کړي کمپونو کې توقیف کړي دي.
د چینایي سیاستوالو او د بهرني پالیسی جوړونکو په ځینو وختونو کې په ماته او کونګه ژبه کې ګډې ویډې خبرې کړي دي، بیجینګ له ډیرې مودې راهیسې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو په شتون باندې نیوکې کولې او امریکایان یې د سیمې د بې ثباتۍ سرچینه بلله، خو کله چې واشنګټن په اپریل میاشت کې اعلان وکړو، چې دوی به د سپټمبر میاشت کې له افغانستان ووځي، د چین واکمنو بیا امریکایان تورن کړل، چې په ډیر ګړندي او غیر مسوولانه توګه عمل کوي.
د چین او افغانستان ترمنځ ۷۶ کیلومتره اوږده پوله د واخان دهلیز په ختیځ سر کې موقعیت لري، دغه پوله په ډېره اسانۍ سره کنټرول کیداې شي. د چین امنیت ته د افغانستان سربیره د تاجکستان له لوري ډیر ګواښ شته دی. د افغانستان غرنیزو سیمو په پرتله تاجکستان یو داسي هیواد دی، چې د ترهګرو ډلو ته د چین سینکیانګ ولایت د برید کولو لپاره ځانګړي فرصتونه برابروي. چین له همدې امله د تاجکستان په پوله د ترهګري ضد پوځي مانوورونه ترسره کوي.
په ۱۹۹۶ کال کې کله چې طالبانو په افغانستان کې د لومړي ځل واک ترلاسه کړ، د هغمهال او وسمهال توپیر ښېي ډیر لوی وي. په هغه وخت کې د چین مشرتابه د طالبانو حکومت په رسمیت پیژندلو څخه ډاډه یا انکار وکړ، په کابل کې د چین سفارت د کلونو لپاره تړلي پاتي شوي و.

### ۳ . د افغانستان طبیعي زېرمو ته د چین لیوالتیا:

د اټکلونو له مخې د افغانستان جغرافیایي جوړښت د ځمکې لاندې شتنمې څه د پاسه یو ټرلیون ډالر ارزښت لري. د طالبانو رژیم د اقتصادي کړکیچ سره مخامخ دی. د افغانستان طبیعي زېرمې د طالبانو د عایداتو عمده سرچینه د کانونو رااېستل کیدا شي. له همدې امله طالبانو د افغانستان طبیعي زېرمو کنټرولو ته ډیر پام اړولي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دی. چین د نړۍ فابریکې په توګه د افغانستان د طبیعي زیرمو استخراج په پانګونه کې رول ولوبوي. چین د طالبانو د واکمنۍ د مخه د افغان حکومت سره په ځینو کانو کې پانګونه هم کړي ده. لکه د لوګر مسو د عینک کان د کیندلو تړون. چین به سمدستي د افغانستان په کانو کې نوی پانګونه ونه کړي، خو ښايي چین به د طالبانو حکومت په رسمیت پیژندلو ورسته خپل دریځ رسماً څرګند کړي. کله چې طالبان چین ته اړین امنیت او ثبات تضمین کړي، ښايي په افغانستان کې د کانونو د استخراجولو لپاره پاګونه وکړي.
چین په دې ورستیو څو کلونو کې د طالبانو سره ښې اړیکې جوړې کړي دي. د همدې کال د جولای په میاشت کې د طالبانو یو پلاوې چین ته رسمې ته درلود، د چین د بهرنیو چارو وزیر سره لیدنې کتنې ترسره کړې. چینایان په دې اندې دي، د طالبانو حکومت به په دې وتوانیږي، د چین پولې باثباته کړي او د داعش مخه به ونیسې. د همدې لیدنې په مهال د چین دولت په کابل کې د طالبانو حکومت په رسمیت پیژندلو ته لیوالتیا هم ښکاره کړي ده. بیجینګ د طالبانو څخه ډاډ ترلاسه کړي، چې طالبان به سینکیانګ ته د سختدریځو اسلامپالو ډلو د ورننوتلو مخنوي لپاره به پوره همکاري او هڅې کوي. په افغانستان کې چین، روسیه له دې فرصته ګټه اخلي. لویدیځ هیوادونه د طالبانو د بریا ورسته په کابل کې خپل سفارتونه وتړل او د دوی ډیپلوماتان او کارکونکې په تېښته کې شول، وسمهال یوازې د درې هیوادونو چین، روسیې او پاکستان په افغان پلازمینه کابل کې خپل سفارتونه خلاص ساتلي دي. روسیې تر دې دمه پریکړه نه ده کړي، چې ایا د طالبانو نوی مشرتابه په رسمې ډول په رسمیت وپیژندل شي. مسکو ویلې، دا د طالبانو چلند پورې اړه لري. د دې بر عکس چین د طالبانو له بریا ورسته لومړۍ هیواد و، چې نوې واکمنانو سره د دوستانه اړیکو ته راضي شو. په روسیه او چین کې طالبانو ته تود هرکلي شوي. د چین د بهرنیو چارو وزیر هیله من دی، چې د طالبانو لخوا به یوه منځلارې اسلامي پالیسې غوره شي. د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یو د جي شل هیوادونو په نړیواله ناسته کې ویلې، چې افغانستان پر دوه لارې ولاړ دی، چې یوه لار بربادۍ او جګړو ته ځی او بله بیا ابادۍ او ثبات ته ځي.
په حقیقت کې چین کولي شي، د افغانستان په اقتصادي ډګر کې طالبانو حکومت ته د روسانو په پرتله ډیر څه ورکړي. چینايې رسنیو لا د مخه افغانستان ته د چین د وربښمنو لارې نوښت کې د مهم رول لوبول ځای ورکړي دی. افغانستان په بدل کې د طالبانو حکومت کولي شي بیجینګ ته خورا ډیرې طبیعې زېرمې لکه مس یا لیتیم د ګټې اخیستنې لپاره وړاندې کړي. چین د یو ستر سیمه ییز اقتصادي ځواک په توګه د افغانستان په زېربناوو کې ډیره پانګونه وکړي او د سرچینو په استخراج کې اساسا په دې پورې اړه لري، چې ایا طالبان وکولي شي افغانستان د سولې او ثبات خواته بوځي. په مسکو کې لږ څه شک شتون لري، چې چین به د افغانستان په سیاسي او اقتصادي پرمختګ کې پریکړه کونکې رول ولوبوي، له اقتصادي پلوه روسیه افغانستان ته په بیا روغونه کې او اقتصادي پراختیا کې ظرفیتونه نه لري.
افغانستان به د چین په مرسته او پانګونې باندې ستر اقتصادي پرمختګونه وکړي. له همدې امله چین د طالبانو سره ستراتیجې ملګرتیا څخه ګټه اخلي، د وریښمنیو لار د چینایانو د پرستېژ نړیواله پرروژه ده. افغانستان به د چینایانو په دې پرستېز پروژه کې یو ستراتیجکې رول ولوبوي. د افغانستان او چین ترمنځ اقتصادي اړیکې د تیرو شلو کلونو راهیسې پیل شوي دي، د تیلو ایستلو او د مسو کیندلو په اړه رسمې تړونونه لاسلیک شوي دي.

### ۴. افغانستان د روسیې لپاره څه اهمیت لري او په افغانستان کې د روسیې ځانګړې رول لوبول:

وسمهال روسان د افغانستان سیاسي حالات له نږدې څاري او ارامه ښکاري. خپل سفارت په کابل کې پرانیستی دی او له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره لیواله ښکاري. د روان کال د اکتوبر په شلمه نېټه روسیې د طالبانو لپاره د یوې بلې مهمې غونډې د مسکو خبرو بهیر ته وربللي او کوربتوب یې کوي، د مسکو بهیر په خبرو کې د روسیې سربیره چین، هند، پاکستان او ایران هم برخه اخلي. همدا ډول روسیې ملګرو ملتونو ته وړاندېز کړي، څو د افغانستان په تړاو یوه بله نړیواله غونډه جوړه کړي.همدا ډول د جی شل هیوادونو غړو د افغانستان په اړه یوه انلاین غونډه ترسره کړه، په دې غونده کې هم روسیې برخه واخیستلي ده.
روسیې تل د خپلې سویلي ښنده کې د افراطي اسلامپالو له نفوذ څخه ویره درلودلي ده. له همدې امله روسیې په دې ورستیو کې هوکړه وکړه، چې د پخواني شوروي اتحاد هیوادونه ترکمنستان، تاجکستان او اربکستان سره پوځي همکاري او د پولو امنیت پیاوړي کړي. روسیه همداوس د روسیې په مشرۍ امنیتي بلاک د افغانستان او تاجکستان پلو ته ورځرمه پوځی مانوررونه ترسره کوي. د پخوانې شوروي اتحاد جمهوریتونه تاجکستان، ازبکستان، قرغزستان د افغانستان مستقیم ګاوندې هیوادونه دي او په خپلو پولو کې له جګړې ویره لري. اسلامیزم د پخوانې شوروي په سیکولر جمهوریتونو کې مخ پر وده دی. روسیه غواړي خپل ګاوندیان له اقتصادي پلوه هم په افغانستان کې ښکېل کړي او په دې توګه طالبان امنیتي ګواښونو ته مسوول وګرځوي.
مسکو هم د خپلې افغانستان پالیسۍ سره درې موخې تعقیبوي. د افغانستان اوسنۍ بې ثباتې باید د منځنې اسیا هیوادونو ته ونه غځیږي. روسیې ته د مرکزي اسیا جمهوریتونو د بې ثباتې ګواښونه د ژورې اندیښنې وړ دي. مسکو له دې سیاست سره د مرکزي اسیا جمهوریتونو دا زیګنال ورکوي، چې د دوی د امنیت تضمین کونکی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په توګه خپل دريځ هلته په افغانستان کې پیاوړي کوي. په منځنۍ اسیا کې د افغانستان په شا خوا کې د لویدیځ نوی حضور په صراحت سره رد کیږي.  همدارنګه د داعش نفوذ مخنوي او په افغانستان کې د مخدره توکو د سوداګرۍ مخنوي او روسيې ته د ترانزيټ لاري بندول دي.
په ۲۰۰۳ کال کي طالبان په روسیه کې د یوې ترهګري ډلي په توګه منع اعلان شول. طالبان لا هم په روسیه کې یو منع اعلان شوي افراطي سازمان دی. له دوی سره هر ډول اړیکه په بند محکومیدای شي. مسکو د تیری لسیزې په پیل کې له طالبانو سره په پیل کې پټې خبرې پیل کړ، بیا د اعتبار په ډیرېدو سره په جوته توګه د نړیوالو سترګو ته مخامخ خبري اترې پیل کړې. د طالبانو په وړاندي د روسانو په چلند کې بدلون په اصل کې دا ښکاره کوي، چې د متحده ایالاتو او ناټو شتون سربیره دوی خپل نفوذ بیرته ترلاسه کول غواړي. د افغان حکومت او ملي پوځ کړندي سقوط ټول حیران کړو.
تر نن ورځي پورې د طالبانو غورځنګ د سیاسي پالیسیو موخي کې او د روسيي لپاره د دې پالیسیو احتمالي پایلو په اړه ناڅرګندتیاوې شتون لري. د کابل تر نیولو ورسته په پیل کې روسیي ډیپلوماتانو د لومړي ګام په اړه مثبت غبرګون څرګند کړو. په هر صورت داسي ډیر داسي نښې نښانې شتون لري، چې روسیه به طالبان په رسمیت وپیژني او دوی به د ترهګرو سازمانو لیست څخه هم لرې کړي.

## ۵. افغانستان د منځنی اسیا جمهوریتونو لپاره څه اهمیت او ارزښت لري:

افغانستان د مرکزي اسیا دري ګاونډیو هیوادونو ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان لپاره مهم ګاوندي هیواد دی. د دې هیوادونو ترمنځ نه یوازې تاریخی قومي اړیکي شتون لري، بلکي اقتصادي او سوداګریزه اړیکی هم شتون لري. د دوی لپاره افغانستان د هند سمندر ته یو بالقوه ترانزیتي هیواد دی.  همدارنګه دې درېواړو نازکوماتیدونکي امنیتي وضعیت درلودونکي هیوادونو لپاره د افغانستان امنیتي وضعیت او ثبات خورا مهم دی.
ازبکستان، قرغزستان او ترکمنستان په وچه کي راګیرهیوادونه دي، چي سمندرونو ته لاسرسي نه لري، خو د انرجي لويي زېرمي لري. دغه توکي په افغانستان، پاکستان او هند کي اړین توکي دي د منځنی اسیا هیوادونه ویره لري چي افغانستان به یو ځلي بیا د سختدریځو اسلامپالو لپاره په یوه خوندي پټنځای بدل شي. له دې امله د منځنې اسیا هیوادونه د طالبانو نوی واکمنی ته د شک په سترګه ګوري. دوی د طالبانو واکمندو له امله د امنیت او ثبات ګواښ احساس کوي. خو په حیرانتیا سره د طالبانو د واکمني په پیل کي د افغانستان دریو ګاونډیو هیوادونو غبرګونونه ډیر محتاط ول. په دې هیوادونو کي ترکمنستان د طالبانو سره ښې اړیکي لري. ازبکستان د جولای په میاشت کي د خپلي پولو په اوږدو کي سلګونو افغان حکومتي سرتیرو ته د طالبانو د برید له امله د ورننوتلو اجازه ورکړه، له بلخوا ازبکستان د افغان پخوانی حکومت یوه جنګي الوتکه له پولي څخه د ورتیریدو پرمهال وبشتلي هم ده.
د افغانستان د دوو شمالي ګاونډیو ازبکستان او ترکمنستان د افغانستان ثبات او امنیت د ټولي منځنی اسیا د ودې لپاره ارین بللي او افغانستان د ټولي منځنی اسیا د دوامدارو پراختیا کیلي ګڼلي ده.  تاشکند او عشق اباد ژمنې کړي چي د افغان  ولس سره د سولې او ثبات د ټینګیدو په اړه مرستي کوي. خو تاجکستان تل طالبان په کلکه رد کړي دي او د تاجکستان سره د طالبانو د رژیم ترنګتیا مخ به ډیرو ده. د افغانستان بل شمالي ګاونډي تاجکستان او افغانستان ترمنځ د پولي پر اوږدو کي وضعیت مخ پر کړکیچنویدو دی. د تاجکستان او طالبانو ترمنځ ناندرۍ بیا پیل شوي دي. د ۱۹۹۴ کال راهیسي ډیکتاتور امام علي رحمانوف د تاجکستان اوتوکرات واکمن دی، د تاجکستان په ګاونډ کي د طالبانو ترکنټرول لاندي یو افغانستان د تاجکستان امنیت او ثبات لپاره او د رحمانوف د واکمنی لپاره یو ګواښ دی.  همداوس د تاجکستان ولسمشر رحمانوف په فرانسه کي د فرانسویانو ولسمشر مکرون سره به خبرو بوخت دی، چي پر کابل د طالبانو له واکمنیدو ورسته د تاجکستان امنیت او ثبات له ګواښونو سره مخامخ دی. د فرانسي ولسمشر ورسره د مرستو ژمنو ټټر هم وهلي دی. په پاریس کي د الیزیه په ماڼي کي د تاجکستان د ولسمشر درناوی د دې نښه ده، چي د پاریس واکمن به دې باور دي، چي د سیمي هیوادونه د افغانستان په کړکیچ کي مهم رول لوبولي شي.
د پخواني شوروي اتحاد جمهوریتونه، تاجکستان، اوزبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغیزستان هغه هیوادونه دي، چي سمندرې لارې نه لري او په وچه کي راګیر دي، خو دغه هیوادونه ځښتي ډیرې معدني زیرمې لري، چې دغو معدني زېرمو ته افغانستان، پاکستان او هند ډیره اړتیا ورته لري.

د لومړي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ